علم او فن- علمي څېړنيزه مجله

# د افغانستان د کرنیز پراختیایي بانک د بیا رامنځته کولو اړتیا، اهمیت او احتمالي اقتصادي اغېزې

خال محمد احمدزی[۱]*، ایاز خان ناصری[۱]

[۱] د کرنیز اقتصاد او پراختیا څانګه، کرنې پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل افغانستان

**لنډیز**

د دې مطالعې اصلي موخه په افغانستان کې د کرنیز پراختیایي بانک د بیا رامنځته کولو اړتیا، اهمیت او احتمالي اقتصادي اغېزو ارزول دي. دغه مطالعه د روایتي مروري څېړنې پر بنسټ ترسره شوې او اړوند معلومات د نړیوال بانک، آسیایي پراختیایي بانک، د افغانستان بانک، د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت، د کرنیز پراختیایي صندوق او نورو معتبرو علمي او پالیسي اسنادو له تحلیل څخه راټول شوي دي. د مطالعې موندنې ښیي چې د کرنیز پراختیایي بانک بیا فعالېدل کولای شي د بزګرانو او مالدارانو مالي لاسرسی زیات کړي، د کرنیزو زیربناوو پراختیا ته زمینه برابره کړي، د کرنیزو تولیداتو کچه لوړه کړي، د خوړو خوندیتوب پیاوړی کړي او د کلیوالي سیمو په اقتصادي وده او کارموندنه کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي. همدارنګه، د اسلامي مالي تمویل پر بنسټ د کرنیز بانک فعالیت کولای شي د هېواد د ټولنیزو او اقتصادي اړتیاوو له غوښتنو سره لا زیات سمون ولري. پایله دا ده چې د افغانستان د کرنې د دوامدارې ودې او د بزګرانو د مالي ستونزو د حل لپاره د کرنیز پراختیایي بانک بیا رامنځته کول یوه مهمه اقتصادي او پراختیایي اړتیا ګڼل کېږي، خو د بریالیتوب لپاره یې د مناسب حقوقي چوکاټ، اغېزمنې ادارې، شفاف مدیریت او دوامدار مالي ملاتړ شتون اړین دی.

**کلیدی کلیمات**: کرنیز پراختیایي بانک، کرنیز تمویل، اسلامي بانکداري، کرنیز سکتور، افغانستان، کلیوالي پراختیا

# The Need, Importance, and Potential Economic Impacts of Re-establishing the Agricultural Development Bank in Afghanistan

Khal Mohammad Ahmadzai[1]*, Ayaz Kahn Naseri[1]

[1]Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Kabul University, Kabul Afghanistan

*Corresponding Author Emial: ahmadzaikhalmohammad@gmail.com

## Abstract

The primary objective of this study is to assess the need, importance, and potential economic impacts of re-establishing the Agricultural Development Bank in Afghanistan. This study employed a narrative review approach, and relevant information was collected through the analysis of reports and policy documents from the World Bank, the Asian Development Bank, Da Afghanistan Bank, the Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock, the Agricultural Development Fund, and other credible scientific and policy sources. The findings indicate that reactivating the Agricultural Development Bank could enhance farmers' and livestock producers' access to financial services, facilitate the development of agricultural infrastructure, increase agricultural production, strengthen food security, and promote rural economic growth and employment. Furthermore, operating the bank based on Islamic financing principles could better align its services with the country's socio-economic needs and the preferences of its population. The study concludes that re-establishing the Agricultural Development Bank is a significant economic and developmental necessity for ensuring sustainable agricultural growth and addressing the financial constraints faced by farmers in Afghanistan. However, its successful implementation requires an appropriate legal framework, effective institutional governance, transparent management, and sustainable financial support.

**Keywords:** Agricultural Development Bank, Agricultural Finance, Islamic Banking, Agricultural Sector, Afghanistan, Rural Development

**سریزه**

کرنه د افغانستان د اقتصاد له بنسټیزو سکتورونو څخه ګڼل کېږي او د هېواد د وګړو د معیشت، کارموندنې، خوړو د خوندیتوب او اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول لري. د نړیوال بانک د راپور له مخې، کرنیز سکتور د افغانستان د اقتصادي فعالیتونو یوه اساسي برخه جوړوي او د کلیوالي وګړو د عایداتو مهمه سرچینه بلل کېږي(World Bank, 2018) . د هېواد ډېری کلیوالي کورنۍ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول په کرنه، مالدارۍ، بڼوالۍ او اړوندو فعالیتونو پورې تړلې دي، نو ځکه د دې سکتور پیاوړتیا د فقر د کمښت، د خوړو د خوندیتوب او د اقتصادي ثبات لپاره ځانګړې اهمیت لري. سره له دې چې افغانستان د پراخو کرنیزو سرچینو، حاصلخېزو ځمکو او مناسب اقلیم لرونکی هېواد دی، خو د کرنې سکتور لا هم له ګڼو جوړښتي ستونزو سره مخ دی. د مالي سرچینو محدود لاسرسی، د کرنیزو پورونو نشتوالی، د عصري ټکنالوژۍ کمه کارونه، د اوبو لګولو نیمګړې زیربناوې، د بازارموندنې ستونزې او د کرنیزو محصولاتو د پروسس محدود ظرفیت د دې سکتور د ودې مهم خنډونه ګڼل کېږي(Asian Development Bank, 2019) .

په پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې د کرنیزو پراختیایي بانکونو تجربو ښودلې ده چې دا ډول تخصصي مالي بنسټونه د بزګرانو او کرنیزو متشبثینو لپاره د مالي خدمتونو د وړاندې کولو له لارې د کرنیزو تولیداتو په زیاتوالي، د کلیوالي پانګونې په پراختیا او د کرنیزو ارزښت ځنځیرونو په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي (Seibel et al., 2005) . د چین، هند، مصر او ترکیې په څېر هېوادونو کې د کرنیزو بانکونو فعالیتونو د کرنیزو تولیداتو د پراختیا، د صادراتو د زیاتوالي او د کلیوالي اقتصادي ودې په برخه کې د پام وړ پایلې لرلې دي. په افغانستان کې د کرنې پراختیایي بانک په ۱۳۴۸ هـ.ش کال کې د کرنیز سکتور د مالي ملاتړ په موخه رامنځته شو او د څو لسیزو لپاره یې بزګرانو او مالدارانو ته مالي خدمتونه وړاندې کول. خو د بانکدارۍ د نوي قانون، تنظیمي بدلونونو او ځینو اداري او سیاسي عواملو له امله دغه بانک په ۱۳۸۵ هـ.ش کال کې منحل شو (Food and Agriculture Organization, 2022; Da Afghanistan Bank, 2025; FAO, 2026) .

د یاد بانک له انحلال وروسته، په هېواد کې داسې یو تخصصي مالي بنسټ شتون نه لري چې د کرنې او مالدارۍ سکتور ځانګړو اړتیاوو ته ځواب ووايي. اوس مهال ډېری بزګران د رسمي مالي تمویل د نشتون له امله له شخصي پور ورکوونکو، غیر رسمي مالي سرچینو او یا هم له محدودو کوچنیو مالي پروګرامونو څخه استفاده کوي. دغه وضعیت نه یوازې د کرنیزو تولیداتو د پراختیا مخه نیسي، بلکې د بزګرانو د اقتصادي زیانمنتیا کچه هم لوړه ساتي. له همدې امله، د کرنیز پراختیایي بانک د بیا رامنځته کولو موضوع د کرنیز سکتور د ملاتړ، د اسلامي مالي تمویل د پراختیا او د کلیوالي اقتصادي ودې له مهمو بحثونو څخه ګڼل کېږي. د دې مطالعې موخه په افغانستان کې د کرنیز پراختیایي بانک د بیا رامنځته کولو اړتیا، اهمیت او احتمالي اقتصادي اغېزې ارزول دي. دغه مقاله هڅه کوي د موجودو علمي مطالعاتو، ملي راپورونو او نړیوالو تجربو پر بنسټ وښیي چې د کرنیز پراختیایي بانک بیا فعالېدل څنګه کولای شي د کرنیز تولید، کارموندنې، خوړو د خوندیتوب، صادراتو او کلیوالي پراختیا په پیاوړتیا کې اغېزمن رول ولوبوي.

**د کرنیز تمویل نظري بنسټ**

کرنیز تمویل د هغو مالي خدمتونو، پورونو، پانګونو او اعتباري اسانتیاوو ټولګه ده چې د کرنې، مالدارۍ، بڼوالۍ او نورو کرنیزو فعالیتونو د ملاتړ لپاره برابرېږي. د کرنیز تمویل اساسي موخه دا ده چې بزګران او کرنیز متشبثین وکولای شي د تولید د مختلفو پړاوونو لپاره اړینې مالي سرچینې ترلاسه کړي. د کرنې سکتور د نورو اقتصادي سکتورونو په پرتله له لوړو خطرونو سره مخ وي، ځکه چې اقلیمي بدلونونه، وچکالي، افتونه، ناروغۍ او د بازار د بیو بې ثباتي د کرنیزو فعالیتونو پر پایلو مستقیم اغېز لري. له همدې امله، په ډېری هېوادونو کې دولتونه او مالي بنسټونه د کرنې لپاره ځانګړي مالي میکانیزمونه رامنځته کوي (Yaron, 1992).  اقتصادي نظریې څرګندوي چې مالي سرچینو ته لاسرسی د تولید، پانګونې او اقتصادي ودې له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي. کله چې بزګران مالي امکاناتو ته لاسرسی ونه لري، نو د اصلاح شویو تخمونو، کیمیاوي سرو، عصري ماشین آلاتو او پرمختللو تولیدي ټکنالوژیو له کارولو محرومیږي. دا حالت د تولید د کچې او کیفیت د کمښت لامل ګرځي. برعکس، مناسبه مالي مرسته بزګرانو ته دا توان ورکوي چې د خپلو فارمونو تولیدي ظرفیت لوړ کړي او د بازار غوښتنو ته ښه ځواب ووايي (Meyer, 2011) .

د کرنیز تمویل په برخه کې د تخصصي کرنیزو بانکونو رامنځته کول د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې یوه بریالۍ تجربه بلل شوې ده. دا بانکونه د کرنیزو پورونو د برابرولو ترڅنګ د کرنیزو پانګونو، زېربناوو او ارزښت ځنځیرونو په پراختیا کې هم مهم رول لوبوي. دSeibel او همکارانو (۲۰۰۵) په باور، د کرنیزو پراختیایي بانکونو اساسي دنده یوازې د پورونو ورکول نه دي، بلکې د کرنیز سکتور د پایدارې ودې لپاره د مالي او تخنیکي ملاتړ یو منظم چوکاټ رامنځته کول دي. د مالي محدودیتونو نظریه (Credit Constraint Theory) څرګندوي چې د مالي سرچینو نشتوالی د کرنیز پرمختګ یو له مهمو خنډونو څخه دی. په ځانګړې ډول په پرمختیایي هېوادونو کې کوچني بزګران د تضمینونو د نشتوالي، د پورونو د لوړ لګښت او د رسمي مالي بنسټونو د محدود حضور له امله مالي خدماتو ته کافي لاسرسی نه لري. له همدې امله، کرنیز بانکونه د مالي شمولیت (Financial Inclusion) په پراختیا کې مهم رول لوبوي(Zeller & Sharma, 1998) .

## د کرنیزو پراختیایي بانکونو نړیوالې تجربې

د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو تجربې ښیي چې کرنیز پراختیایي بانکونه د کرنې د عصري کولو، د بزګرانو د عاید د لوړولو او د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره اغېزمنې وسیلې دي. په ډېرو هېوادونو کې دغو بانکونو د مالي خدماتو د پراختیا ترڅنګ د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي او د خوړو د خوندیتوب په تأمین کې هم مهم رول لوبولی دی. په هند کې د کرنې او کلیوالي پراختیا ملي بانک (NABARD) د کرنیز تمویل له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کیږي. دغه بانک د بزګرانو، کلیوالي تصدیو او کرنیزو تعاوني ټولنو لپاره د پورونو او مالي خدمتونو د برابرولو له لارې د کرنیز سکتور په پراختیا کې مهم رول لوبولی دی. د هند تجربه ښیي چې د تخصصي کرنیزو مالي بنسټونو شتون د کرنیز تولید، کلیوالي پانګونې او د کرنیزو صادراتو د زیاتوالي لامل ګرځي(World Bank, 2018) .

په چین کې دAgricultural Development Bank of China د کرنیزو محصولاتو د تولید، پروسس او بازارموندنې په برخه کې پراخې پانګونې تمویل کړې دي. د دې بانک فعالیتونو د کرنیزو ارزښت ځنځیرونو د پراختیا، د خوړو د خوندیتوب د پیاوړتیا او د کلیوالي اقتصاد د ودې لپاره اغېزمن رول لوبولی دی(Gonzalez-Vega, 2003) . ترکیه هم د کرنیزو پورونو او کرنیزو پانګونو د ملاتړ اوږده تجربه لري. د د ترکیې دولتي زراعتي بانک (Ziraat Bankası ) له لارې بزګرانو ته د ټیټې ګټې یا سبسایډي لرونکو پورونو برابرول د کرنیزو تولیداتو د پراختیا او د کرنیزو صادراتو د زیاتوالي سبب شوي دي. د ترکیې تجربه څرګندوي چې د دولت ملاتړ او اغېزمن مالي مدیریت د کرنیزو بانکونو د بریالیتوب مهم عوامل دي. په مصر کې دPrincipal Bank for Development and Agricultural Credit د بزګرانو لپاره د مالي خدمتونو د برابرولو ترڅنګ د کرنیزو تولیدي توکو د وېش او بازارموندنې په برخه کې هم مهم رول لوبولی دی. د مصر تجربه ښیي چې د کرنیزو بانکونو فعالیتونه یوازې په پور ورکولو محدود نه دي، بلکې د کرنیز ارزښت ځنځیر په مختلفو برخو کې اغېز لرلی شي (Seibel et al., 2005). د نړیوال بانک او آسیایي پراختیایي بانک راپورونه څرګندوي چې هغه هېوادونه چې کرنیزو مالي خدمتونو ته یې د بزګرانو لاسرسی زیات کړی، د کرنیز تولید، کارموندنې، عاید او خوړو د خوندیتوب په شاخصونو کې یې د پام وړ پرمختګونه ترلاسه کړي دي (IFAD, 2009; World Bank, 2018; ADB, 2019; IFAD, 2024).

## اسلامي کرنیز تمویل او کرنیزه بانکداري

اسلامي مالي نظام د شریعت د اصولو پر بنسټ فعالیت کوي او د سود (ربا) پر ځای د مشارکت، مضاربت، مرابحې، سلم(السلم) او اجارې په څېر مالي وسیلې کاروي. په هغو هېوادونو کې چې اسلامي ارزښتونه پیاوړي دي، اسلامي بانکداري د مالي خدماتو د پراختیا لپاره یوه مناسبه او د منلو وړ لاره بلل کیږي(Obaidullah, 2008). د کرنې په سکتور کې د اسلامي تمویل ځانګړې اهمیت دا دی چې بزګران د سودي پورونو له اخیستلو پرته مالي سرچینو ته لاسرسی پیدا کوي. د سلم قرارداد، چې د کرنیزو محصولاتو د راتلونکي تولید پر بنسټ مخکې له مخکې تمویل برابروي، د کرنیز تمویل له مهمو اسلامي وسیلو څخه ګڼل کیږي. همدارنګه، مرابحه د کرنیزو وسایلو، تخمونو، سرو او نورو تولیدي توکو د پېرلو لپاره په پراخه کچه کارول کیږي(Ahmed, 2010) . د اسلامي پراختیایي بانک او نورو اسلامي مالي بنسټونو تجربو ښودلې چې اسلامي کرنیز تمویل د کوچنیو بزګرانو لپاره د مالي لاسرسي په پراختیا او د کرنیزو فعالیتونو په ملاتړ کې اغېزمن رول لوبولی دی. دا ډول تمویل د خطر شریکولو، شفافیت او ټولنیز عدالت پر اصولو ولاړ دی، چې د افغانستان د ټولنیزو او اقتصادي شرایطو سره مناسبت لري.

### په افغانستان کې د کرنيز تمويل وضعيت

افغانستان د کرنيزو امکاناتو له پلوه د پام وړ ظرفيتونه لري، خو د کرنيز تمويل محدوديتونه لا هم د دې سکتور د ودې مهم خنډونه ګڼل کيږي. د نړيوال بانک د راپور له مخې، د مالي خدمتونو محدود لاسرسی، د پانګونې کموالی او د کرنيزو پورونو نشتوالی د کرنيز پرمختګ پر وړاندې مهمې ننګونې دي(World Bank, 2018) . له بلې خوا، د افغانستان د کرنې پراختيايي صندوق (ADF) په وروستيو کلونو کې د کرنيزو تمويلاتو په برخه کې د پام وړ فعاليتونه ترسره کړي، خو د دې بنسټ امکانات د ټول هېواد د اړتياوو د پوره کولو لپاره بسنه نه کوي. همدارنګه، د کوچنيو مالي بنسټونو فعاليتونه هم تر ډېره محدود جغرافيايي پوښښ لري او د کرنې د پراخو اړتياوو ځواب نه شي ويلی ,ADF) (2019; ADF, 2023. د افغانستان بانک او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت راپورونه څرګندوي چې په هېواد کې د کرنيزو مالي خدماتو لپاره لا هم د يوه تخصصي او پراخ بنسټه مالي بنسټ اړتيا موجوده ده. د پخواني کرنيز پراختيايي بانک له انحلال وروسته د کرنې سکتور د ځانګړو مالي اړتياوو لپاره مناسب بديل نه دی رامنځته شوی(Da Afghanistan Bank, 2025; MAIL, 2025) . له همدې امله، د نړيوالو تجربو، د اسلامي مالي تمويل د اصولو او د افغانستان د کرنيز سکتور د اړتياوو په پام کې نيولو سره، د کرنيز پراختيايي بانک د بيا رامنځته کولو موضوع د کرنيز پرمختګ، مالي شموليت او کليوالي اقتصادي ودې لپاره د بحث وړ مهمه موضوع ګڼل کيږي.

### د څېړنې ميتودولوژي

دا څېړنه د روايتي مروري څېړنې له ډول څخه ده. په دې څېړنه کې د افغانستان د کرنيز پراختيايي بانک د اهميت، اړتيا، تاريخي شاليد او احتمالي اقتصادي اغېزو په اړه موجود علمي ادبيات، پاليسي اسناد، دولتي راپورونه او نړيوالې تجربې تحليل او ارزول شوي دي. د دې څېړنې موخه دا ده چې د يوې مشخصې موضوع په اړه موجود معلومات راټول، تنظيم او تفسير کړي او د پربکړې نيوونکو او څېړونکو لپاره د موضوع يوه هر اړخيزه انځور وړاندې کړي. د دې مطالعې معلومات د ثانوي سرچينو له لارې راټول شوي دي. د معلوماتو مهمې سرچينې عبارت دي له: د نړيوال بانک (World Bank) راپورونه؛ د آسيايي پراختيايي بانک(ADB) راپورونه؛ د افغانستان بانک (Da Afghanistan Bank)اسناد او راپورونه؛ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) راپورونه؛ د کرنيز پراختيايي صندوق (ADF) راپورونه؛ د اسلامي مالي تمويل اړوند علمي مقالات؛ د کرنيزو پراختيايي بانکونو په اړه نړيوالې څېړنې؛ علمي کتابونه، ژورنالي مقالې او پاليسي اسناد. د معلوماتو د راټولولو لپاره اړوند علمي مقالات، رسمي راپورونه او پاليسي اسناد مطالعه او ارزول شوي دي. د معلوماتو د موندلو لپاره لهGoogle Scholar ، ResearchGate، World Bank، Asian Development Bank، Da Afghanistan Bank او نورو معتبرو علمي او رسمي سرچينو څخه ګټه اخيستل شوې ده. د سرچينو د ټاکلو پر مهال له موضوع سره مستقيم تړاو؛ د سرچينې اعتبار او علمي ارزښت؛ د معلوماتو د محتوا روښتيا او د باور وړتيا؛ د کرنيز تمويل، کرنيزو بانکونو او اسلامي بانکدارۍ اړوند معلومات لرلو معيارونه په نظر کې نيول شوي دي، راټول شوي معلومات د محتوايي تحليل (Content Analysis) له لارې تحليل شوي دي. په دې طريقه کې د بېلابېلو سرچينو موندنې سره پرتله شوې، ګډ ټکي او اختلافات مشخص شوي او د افغانستان د کرنيز سکتور له شرايطو سره تړاو ورکړل شوی دی.

### د تحليل بهير په ځانګړي ډول په لاندې موضوعاتو متمرکز و:

- د کرنيزو پراختيايي بانکونو اقتصادي رول؛
- د کرنيز تمويل پر توليد او پانګونې اغېزې؛
- د اسلامي کرنيز تمويل تجربې؛
- د افغانستان د کرنيز سکتور مالي اړتياوې؛
- د کرنيز پراختيايي بانک د بيا رامنځته کولو احتمالي اقتصادي اغېزې.

دا څېړنه د ثانوي معلوماتو پر بنسټ ترسره شوې ده او د لومړنيو معلوماتو (Primary Data) لکه سروې، مرکې يا ساحوي مشاهدې څخه پکې استفاده نه ده شوې. همدارنګه، د افغانستان د کرنيز بانک د فعاليتونو اړوند ځينې تاريخي معلوماتو ته محدود لاسرسی موجود و. سره له

دي، هڅه شوې چې د معتبرو ملي او نړیوالو سرچینو په کارولو سره د موضوع په اړه جامع او د باور وړ تحلیل وړاندې شي. د دې مطالعې مفهومي چوکاټ پر دې فرضیې ولاړ دی چې کرنیز پراختیایي بانک د مالي سرچینو د لاسرسي په زیاتولو سره د کرنیزو پانګونو د پراختیا لامل ګرځي. د پانګونې زیاتوالی د کرنیزو تولیداتو، کارموندنې، عایداتو، صادراتو او خوړو د خوندیتوب په ښه والي کې مرسته کوي، چې په پایله کې د کلیوالي اقتصادي ودې او ملي اقتصادي پرمختګ سبب ګرځي.

## پایلې او موندنې

د موجودو علمي مطالعاتو، ملي راپورونو او نړیوالو تجربو د تحلیل پر بنسټ، د افغانستان د کرنیز پراختیایي بانک د بیا رامنځته کولو اړتیا او اهمیت په بېلابېلو اقتصادي، ټولنیزو او پراختیایي برخو کې څرګندیږي. د څېړنې مهمې موندنې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

- په افغانستان کې د کرنیز تمویل د تشې شتون

د مطالعې پایلې ښیي چې د افغانستان کرنیز سکتور له جدي مالي محدودیتونو سره مخ دی. ډېری بزګران، مالداران او کرنیز متشبثین د رسمي مالي خدماتو او پورونو محدود لاسرسی لري. د کرنیزو فعالیتونو موسمي طبیعت، د تضمینونو نشتوالی، د کرنیزو خطرونو لوړوالی او د تخصصي مالي بنسټونو کمښت د دې لامل شوی چې ډېری تولیدوونکي خپلې مالي اړتیاوې د غیر رسمي سرچینو له لارې پوره کړي(World Bank, 2018) . د پخواني کرنیز پراختیایي بانک له انحلال وروسته، په هېواد کې داسې تخصصي مالي بنسټ نه دی پاتې شوی چې د کرنې او مالدارۍ سکتور ځانګړو اړتیاوو ته په پراخه کچه ځواب ووایي. که څه هم د کرنیز پراختیایي صندوق (ADF) او ځینې کوچني مالي بنسټونه محدود فعالیتونه ترسره کوي، خو د دوی ظرفیتونه د ملي اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي نه دي(ADF, 2019) .

- د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي احتمال

د نړیوالو تجربو تحلیل څرګندوي چې مالي سرچینو ته لاسرسی د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي. کله چې بزګران د اصلاح شویو تخمونو، کیمیاوي سرو، عصري ماشین آلاتو او پرمختللو کرنیزو ټکنالوژیو د ترلاسه کولو توان پیدا کړي، د تولید کچه او کیفیت دواړه لوړیږي(Meyer, 2011) . د افغانستان په شرایطو کې د کرنیز پراختیایي بانک فعالیت کولای شي د تولیدي پانګونو لپاره لازم مالي امکانات برابر کړي او د کرنیزو محصولاتو د تولید ظرفیت لوړ کړي. دا چاره به نه یوازې د کرنیزو محصولاتو مقدار زیات کړي، بلکې د کیفیت د ښه والي لامل به هم شي.

- د کرنیزو زیربناوو پراختیا

د څېړنې موندنې ښیي چې د کرنیز بانک له لارې د اوبو لګولو سیستمونو، سړو خونو، د کرنیزو محصولاتو د زېرمه کولو مرکزونو، پروسس فابریکو، شنو خونو او مالدارۍ فارمونو تمویل اسانه کیدای شي. په ډېری هېوادونو کې د کرنیزو بانکونو یوه مهمه دنده د زیربنایي پروژو مالي ملاتړ دی(Seibel et al., 2005) . افغانستان د حاصلاتو له راټولولو وروسته د ضایعاتو له لوړې کچې سره مخ دی. د زېرمه کولو او پروسس د مناسبې زیربنا نشتوالی د کرنیزو محصولاتو اقتصادي ارزښت کموي. د کرنیز پراختیایي بانک فعالیت کولای شي د دې ستونزې په کمولو کې اغېزمن رول ولوبوي.

- د کارموندنې او عاید زیاتوالی

د کرنیزو پانګونو زیاتوالی په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کارموندنې د فرصتونو د پراختیا لامل ګرځي. د فارمونو پراختیا، د پروسس فابریکو رامنځته کېدل، د بازارموندنې شبکو پراختیا او د کرنیزو ارزښت ځنځیرونو پیاوړتیا د کلیوالي سیمو د خلکو لپاره نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي(World Bank, 2018) . د څېړنې پایلې ښیي چې د کرنیز بانک له لارې د کرنې او مالدارۍ د فعالیتونو پراختیا کولای شي د بزګرانو او مالدارانو عاید لوړ کړي او د کلیوالي بې وزلۍ په کمښت کې مرسته وکړي.

- د خوړو د خوندیتوب پیاوړتیا

د نفوس د زياتوالي او د خوړو د تقاضا د لوړېدو له امله د خوړو خونديتوب د افغانستان لپاره يوه مهمه ملي موضوع ده. د کرنيزو توليداتو زياتوالی او د کورني توليد پياوړتيا د خوړو د خونديتوب د ښه والي اساسي شرطونه دي. موندنې ښيي چې د کرنيز پراختيايي بانک له لارې د توليد زياتوالی د خوراکي توکو پر وارداتو تکيه راکموي او د هېواد د ځان بسياينې کچه لوړه وي. همدارنګه، د کرنيزو محصولاتو د کيفيت ښه والی د بازارونو ثبات او د خوړو د دوامدار تأمين سبب ګرځي( ADB, 2019; ADB, 2023; ADB, 2025).

- د کرنيزو صادراتو د پراختيا فرصتونه

افغانستان د مېوو، وچو مېوو، زعفرانو، طبي بوټو او ځينو نورو لوړ ارزښت لرونکو محصولاتو په توليد کې نسبي مزيت لري. خو د مالي محدوديتونو له امله ډېری توليدوونکي د صادراتي معيارونو د پوره کولو توان نه لري. د څېړنې پايلې څرګندوي چې د کرنيز بانک له لارې د پروسس، بسته بندی، سړو خونو او بازارموندنې پروژو تمويل د صادراتو د پراختيا لپاره مناسب فرصتونه رامنځته کوي. د صادراتو زياتوالی د بهرنيو اسعارو د عوايدو په لوړولو او د سوداګريز کسر په کمولو کې مرسته کوي (World Bank, 2018).

- د اسلامي مالي تمويل د پلي کېدو مناسب چاپېريال

د افغانستان ټولنيز او اقتصادي شرايط د اسلامي بانکدارۍ له اصولو سره نږدې اړيکه لري. د مطالعې پايلې ښيي چې د اسلامي مالي تمويل پر بنسټ د کرنيز پراختيايي بانک فعاليت کولای شي د بزګرانو او مالدارانو د باور د زياتوالي سبب شي. د مرابحې، سلم، مشارکت او مضاربت په څېر اسلامي مالي وسيلې د کرنيزو فعاليتونو د تمويل لپاره مناسبې ګڼل کيږي. دغه ميکانيزمونه د سود پر ځای د ګټې شريکولو او حقيقي اقتصادي فعاليتونو پر تمويل

ولاړ دي (Ahmed, 2010; Obaidullah, 2008; IsDB,2023 IsDB, 2024) .

- د کرنيز پراختيايي بانک د بيا رامنځته کولو ستراتيژيک اهميت

د څېړنې عمومي موندنې څرګندوي چې د کرنيز پراختيايي بانک بيا رامنځته کول يوازې يو مالي اقدام نه دی، بلکې د کرنيز سکتور د ودې، کليوالي پراختيا، د خوړو د خونديتوب، د صادراتو د پراختيا او اقتصادي ثبات لپاره يوه ستراتيژيکه اړتيا ده. د نړيوالو تجربو او د افغانستان د کرنيز سکتور د اړتياوو تحليل ښيي چې يو تخصصي کرنيز بانک کولای شي د مالي شموليت د پراختيا، د پانګونې د زياتوالي او د کرنيزو ارزښت ځنځيرونو د پياوړتيا له لارې د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول ولوبوي.

**مباحثه**

د دې مطالعې موندنې ښيي چې په افغانستان کې د کرنيز پراختيايي بانک بيا رامنځته کول کولای شي د کرنيز سکتور د مالي ستونزو په حل، د توليد د زياتوالي، د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا او د خوړو د خونديتوب په ښه والي کې مهم رول ولوبوي. د نړيوالو تجربو او موجودو علمي مطالعاتو تحليل څرګندوي چې د کرنيزو مالي خدماتو پراختيا د کرنيز پرمختګ له اساسي شرطونو څخه ګڼل کيږي .د څېړنې پايلې د Yaron (1992)، Meyer (2011) او Seibel et al. (2005) له موندنو سره سمون لري، چې مالي سرچينو ته لاسرسی د کرنيز توليد او پانګونې د زياتوالي يو مهم عامل ګڼي. په افغانستان کې ډېری بزګران د مالي امکاناتو د نشتوالي له امله نه شي کولای چې اصلاح شوي تخمونه، عصري ماشين آلات او پرمختللې کرنيزې ټکنالوژۍ وکاروي. له همدې امله، د کرنيز پراختيايي بانک رامنځته کېدل کولای شي د دې محدوديتونو په کمولو کې اغېزمن رول ولوبوي. د نړيوال بانک (۲۰۱۸) او آسيايي پراختيايي بانک (۲۰۱۹) راپورونه ښيي چې په هغو هېوادونو کې چې بزګرانو ته د مالي خدماتو لاسرسی زيات شوی، د کرنيزو توليداتو کچه، د کليوالي عايداتو اندازه او د خوړو د خونديتوب شاخصونه هم ښه شوي دي.

د دې مطالعې پایلې هم د همدې نظر ملاتړ کوي او څرګندوي چې د افغانستان د کرنیز سکتور د ودې لپاره مالي تمویل یو بنسټیز شرط دی. د هند، چین، مصر او ترکیې تجربې ښیي چې تخصصي کرنیز بانکونه د کرنیزو پوروونو تر څنګ د زیربناوو، بازارموندنې او ارزښت ځنځیرونو په پراختیا کې هم مهم رول لوبوي. د دغو هېوادونو د تجربو پر بنسټ ویلای شو چې که په افغانستان کې د کرنیز پراختیایي بانک جوړښت د معاصرې بانکدارۍ، شفاف مدیریت او اغېزمنې څارنې پر بنسټ رامنځته شي، نو کولای شي د کرنیز سکتور په پراختیا کې مثبتې پایلې ولري. سره له دې، نړیوالې تجربې دا هم ښیي چې یوازې د کرنیز بانک شتون د بریالیتوب تضمین نه شي کولای. د کرنیزو بانکونو د ناکامۍ عمده عوامل سیاسي مداخلې، کمزورې مدیریت، د پوروونو د راټولولو ستونزې، د خطر مدیریت نشتوالی او د مالي دوامدارۍ کمزورتیا بلل شوي دي(Seibel et al., 2005) . همدا عوامل د افغانستان د پخواني کرنیز بانک د فعالیتونو پر اغېزمنتیا هم اغېز لرلی شي. له همدې امله، د نوي بانک د جوړولو پر مهال باید د پخوانیو تجربو څخه زده کړه وشي. د اسلامي مالي تمویل اړخ هم د دې مطالعې یوه مهمه موندنه ده. د افغانستان ټولنیز او اقتصادي چاپېریال ته په کتو، اسلامي بانکداري کولای شي د بزګرانو او مالدارانو د باور د زیاتوالي سبب شي. د مرابحې، سلم، مشارکت او مضاربت په څېر مالي وسیلې د کرنیزو فعالیتونو د تمویل لپاره مناسبې ګڼل کیږي او د شریعت له اصولو سره سمون لري(Ahmed, 2010; Obaidullah, 2008).

له بلې خوا، د افغانستان د کرنیز سکتور پراخ جغرافیایي پوښښ او د کلیوالي سیمو محدود مالي لاسرسی دا ایجابوي چې د کرنیز پراختیایي بانک خدمات یوازې په لویو ښارونو محدود نه وي. د بانک د څانګو پراختیا، ډیجیټلي مالي خدمتونه، ګرځنده بانکداري او د کرنیزو تعاوني ټولنو سره همکاري کولای شي د خدماتو د پراخ لاسرسي سبب شي. د دې مطالعې پایلې همدارنګه څرګندوي چې د کرنیز پراختیایي بانک اغېزې یوازې په کرنیز تولید نه محدودیږي، بلکې د کارموندنې، عاید، صادراتو، خوړو د خوندیتوب او کلیوالي پراختیا په برخو کې هم مثبت بدلونونه رامنځته کولای شي. په همدې اساس، د کرنیز پراختیایي بانک بیا رامنځته کول باید د هېواد د اقتصادي پراختیا د یوې ستراتیژیکې برنامې په توګه وکتل شي، نه یوازې د یوه مالي بنسټ د جوړولو په توګه. په ټولیز ډول، د دې څېړنې موندنې او د نړیوالو تجربو تحلیل ښیي چې افغانستان د یوه تخصصي کرنیز مالي بنسټ رامنځته کولو ته اړتیا لري. خو د دې بنسټ بریالیتوب به تر ډېره د مناسب حقوقي چوکاټ، مسلکي مدیریت، شفافې ادارې، اغېزمنې څارنې او دوامدار مالي ملاتړ پورې تړلی وي.

## پایلې

کرنه د افغانستان د اقتصاد، کارموندنې، خوړو د خوندیتوب او کلیوالي معیشت له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کیږي. سره له دې چې هېواد د کرنیز پرمختګ لپاره پراخې طبیعي سرچینې، مناسب اقلیم او د کرنې اوږد تاریخ لري، خو د مالي سرچینو محدود لاسرسی، د کرنیزو پوروونو کمښت، د زیربناوو نشتوالی او د پانګونې ټیټه کچه لا هم د دې سکتور د ودې مهم خنډونه ګڼل کیږي. د دې مطالعې موندنې ښیي چې د کرنیز پراختیایي بانک بیا رامنځته کول کولای شي د افغانستان د کرنیز سکتور د مالي اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول ولوبوي. د نړیوالو تجربو تحلیل څرګندوي چې تخصصي کرنیز بانکونه د کرنیزو تولیداتو د زیاتوالي، د کلیوالي پانګونې د پراختیا، د کارموندنې د فرصتونو د رامنځته کولو، د خوړو د خوندیتوب د پیاوړتیا او د صادراتو د پراختیا لپاره اغېزمن مالي بنسټونه بلل کیږي. همدارنګه، د مطالعې پایلې څرګندوي چې د اسلامي مالي تمویل پر بنسټ د کرنیز پراختیایي بانک جوړول د افغانستان د ټولنیزو، اقتصادي او مذهبي شرایطو سره مناسب تطابق لري. د مرابحې، سلم، مشارکت او مضاربت په څېر اسلامي مالي وسیلې کولای شي بزګرانو، مالدارانو او کرنیزو متشبثینو ته د شریعت له اصولو سره سم مالي خدمات وړاندې کړي. د پخواني کرنیز پراختیایي بانک تجربې او د نورو هېوادونو بریالی نمونې ښیي چې د نوي بانک بریالیتوب یوازې د هغه په رامنځته کولو پورې نه، بلکې د شفاف مدیریت، اغېزمنې ادارې، مسلکي کادرونو، مناسب حقوقي چوکاټ، د خطر مدیریت او دوامدار مالي ملاتړ پورې تړاو لري. په ټولیز ډول، د افغانستان د کرنیز سکتور د ودې، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا، د خوړو د خوندیتوب د ښه والي او د اقتصادي پراختیا د چټکتیا لپاره د کرنیز پراختیایي بانک بیا رامنځته کول یوه مهمه او ستراتیژیکه اړتیا بلل کیږي. د دې بانک اغېزمن فعالیت کولای شي د هېواد د کرنیز تحول او دوامدار اقتصادي پرمختګ لپاره بنسټیزه زمینه برابره کړي. د دې مطالعې د موندنو پر بنسټ لاندې سپارښتنې وړاندې کیږي.

- د افغانستان حکومت دې د کرنيز پراختيايي بانک د بيا رامنځته کولو امکان‌سنجي(Feasibility Study) په علمي او اقتصادي ډول ترسره کړي، ترڅو د بانک د جوړښت، پانګې او فعاليتونو لپاره مناسب چوکاټ وټاکل شي.
- نوی کرنيز پراختيايي بانک دې د اسلامي بانکداری د اصولو پر بنسټ فعاليت وکړي، ترڅو بزګران، مالداران او کرنيز متشبثين وکولای شي له شريعت سره سم مالي خدمات ترلاسه کړي.
- د بانک د فعاليتونو لپاره دې د حکومت، خصوصي سکتور، نړيوالو پراختيايي بنسټونو او مالي ادارو ترمنځ د همکاری مناسب ميکانيزم رامنځته شي.
- د بانک د پورونو او تمويلي خدمتونو تمرکز دې يوازې پر لويو پانګوالو نه وي، بلکې کوچني بزګران، مالداران، بڼوال، د شاتو مچيو روزونکي، د کبانو فارمونه او نور کرنيز متشبثين دې هم تر پوښښ لاندې راولي.
- د کرنيزو پورونو ترڅنګ دې د تخنيکي مشورو، روزنيزو پروګرامونو او مالي سواد د لوړولو خدمتونه هم وړاندې شي، ترڅو د تمويلي سرچينو اغېزمنتيا زياته شي.
- د بانک د فعاليتونو لپاره دې د خطر مديريت، داخلي کنټرول او مالي څارنې پياوړي سيستمونه رامنځته شي، ترڅو د پورونو د نه راګرځېدو او مالي زيانونو خطر کم شي.
- د ډيجيټلي بانکداری، ګرځنده مالي خدمتونو او سيمه‌ييزو څانګو له لارې دې کليوالي سيمو ته د مالي خدماتو لاسرسی پراخ شي.
- د کرنيزو زيربناوو لکه د اوبو لګولو سيستمونو، سړو خونو، پروسس فابريکو، کرنيزو ماشين آلاتو او بازارموندنې پروژو تمويل دې د بانک د لومړيتوبونو په ډله کې شامل وي.
- د کرنيز پراختيايي بانک د فعاليتونو ارزونه دې په منظم ډول ترسره شي، ترڅو د بانک د اقتصادي او ټولنيزو اغېزو اندازه‌ګيري وشي او اړين اصلاحات پکې راوستل شي.
- راتلونکې څېړنې دې د لومړنيو معلوماتو (Primary Data) پر بنسټ د بزګرانو، مالدارانو او کرنيزو متشبثينو د تمويلي اړتياوو، د پورونو د تقاضا او د کرنيز بانک د احتمالي اغېزو په اړه ترسره شی.

## اخځليکونه


Agricultural Development Fund. (2023). About ADF. https://www.adf-af.org/en/about-adf/

Ahmed, H. (2011). Product development in Islamic banks. Edinburgh University Press. https://doi.org/10.1515/9780748644889

Asian Development Bank. (2019). Asian Development Outlook 2019 Update: Fostering growth and inclusion in Asia's cities. Asian Development Bank. https://www.adb.org/publications/asian-development-outlook-2019-update.

Asian Development Bank. (2020). Afghanistan: Country operations business plan, 2021–2023. Asian Development Bank. https://www.adb.org/sites/default/files/institutional-document/634956/cobp-afg-2021-2023.pdf

Asian Development Bank. (2023). Islamic finance. https://www.adb.org/what-we-do/sectors/finance/islamic-finance.

Asian Development Bank. (2025). Agricultural finance in developing countries: Challenges and opportunities. Asian Development Bank. https://doi.org/10.56506/OATB7692

Da Afghanistan Bank. (2025). Annual report 2025. https://www.dab.gov.af/

Food and Agriculture Organization (2022). Afghanistan: FAO welcomes $65 million contribution from Asian Development Bank to boost agriculture and food security. https://www.fao.org/newsroom/detail/afghanistan-fao-welcomes-contribution-from-asian-development-bank/

Food and Agriculture Organization. (2026). FAO and World Bank launch matching grants to support Afghan agribusinesses, create jobs and boost rural economies. https://www.fao.org/asiapacific/news/news-detail/fao-and-world-bank-launch-matching-grants-to-support-afghan-agribusinesses--create-jobs-and-boost-rural-economies/en

International Fund for Agricultural Development (IFAD). (2009). Rural Microfinance and Livestock Support Programme. https://www.ifad.org/en/w/projects/1100001460

International Fund for Agricultural Development (IFAD). (2024). Rural finance. https://www.ifad.org/en/web/guest/rural-finance.

Islamic Development Bank (IsDB). (2024). Agriculture. https://www.isdb.org/sector/agriculture.

Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock. (2025). Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock. https://mail.gov.af/

Obaidullah, M. (2008). Introduction to Islamic microfinance. IBF Net (P) Limited. https://conference.ibfnet.group/wp-content/uploads/2022/10/mf-obaidullah.pdf

Obaidullah, M. F. (2022). MF Obaidullah (conference paper). IBF Net Group Conference Proceedings. https://conference.ibfnet.group/wp-content/uploads/2022/10/mf-obaidullah.pdf

Seibel, H. D. (2007). Reforming agricultural development banks. University of Cologne. https://www.researchgate.net/publication/45138369_Reforming_agricultural_development_banks_AgDBs

The Asia Foundation. (2018). Afghanistan in 2018: A survey of the Afghan people. The Asia Foundation. https://think-asia.org/bitstream/handle/11540/9896/afg-2018.pdf

The Asia Foundation. (2019). Afghanistan in 2019: A survey of the Afghan people. The Asia Foundation. https://think-asia.org/bitstream/handle/11540/11925/afg-2019.pdf

World Bank. (2018). Unlocking the potential of agriculture for Afghanistan's growth. https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/publication/unlocking-potential-of-agriculture-for-afghanistan-growth.

Yaron, J. (1992). Successful rural finance institutions. World Bank Discussion Paper No. 150. World Bank. https://documents1.worldbank.org/curated/en/442051468739334711/pdf/Successful-rural-finance-institutions.pdf